# کله چې په تاسو کې چا اودس وکړ او موزې يې واغوستې نو لمونځ دې په کې وکړي، او مسح دې پرې وکړي، او که خوښه يې وه نو بيا دی يې پرته له جنابته نه باسي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «کله چې په تاسو کې چا اودس وکړ او موزې يې واغوستې نو لمونځ دې په کې وکړي، او مسح دې پرې وکړي، او که خوښه يې وه نو بيا دی يې پرته له جنابته نه باسي».
[صحيح دی] [الدار قطني روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې مسلمان کله له اودس نه وروسته موزې په پښو کړي او بيا يې اودس مات شي او غواړي چې اودس وکړي، نو که وغواړي کولای شي مسح پرې وکړي او لمونځ پکې وکړي او د يوې معلومې نيټې پورې به يې نه لرې کوي، خو که چېرته جنب شو بيا پرې د موزو وېستل او غسل کول لازم دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8392

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee